محمد هارون خپل شعشعي


۲۸ اگست ۲۰۱۲

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## لیکنه او څېړنه
## ۶۲

### ۱۲۹- قبض او بسط :

قبض، له لغوي اړخه د نیولو، تنګولو اوپه لاس کي اخیستلو ماناوي لري ۱ . دا ټکی، د عروضو په ادبي پوهه، حقوقو او طب کي بېلا بېلي ماناوي لري . بسط، د قبض پر خلاف، پراخی یا پراخولو ته وایي۲ .

په اسلامي تصوف او عرفان کي، د قبض او بسط په اړه، جلا جلا نظریې وړاندي سوي دي . د اسلامي تصوف وتلي لاربنود - سیدعلي هجویري غزنوي ( په ۴۶۵ هـ ق کي مړ) په خپل نامتو اثر « کشف المحجوب » کي، قبض د حجاب په حال کي، د سالک د زړه انقباض ګڼلئ دئ؛ اوبسط یې د هغه پر ضد، د کشف په حال کي، د سالک د زړه پرانیستل بللي دي .

نامتو عرفاني مفکر - شیخ عزیزالدین بن محمد نسفي (۶۳۰ - ۷۰۰ هـ ق) قبض هغه حالت بولي، چي په هغه کي د عشق د لاري سالک، د معشوق له خروش او غوسي سره مخامخ کیږي؛ او بسط یې پر خلاف، هغه حالت دئ، چي کباب عاشق د معشوق په مینه او مهرباني سرلوړی کیږي۳ . د شیخ نسفي په عقیده، د عاشق په عرفاني ناسته کي حاضر کسان د هغه د قبض او بسط دا حالتونه د سر په سترګو کتلای سي؛ خو د هغو په علت نه پوهیږي . د ده له نظره، میني ته په رسېدو سره، فراق او وصال له منځه ځي؛ خوف و رجأ، قبض او بسط له ماتي سره مخامخ کیږي۴ . ځینونورو عرفاني مفکرانو، قبض د مُرید د بیري ( خوف) له حالت؛ او بسط یې د هغه د هیلي ( رجأ) له حالت سره ورته ګڼلئ دئ .

د شیخ نسفي او شیخ هجویري په ګډون ټول عرفاني مخکښان په دې باور دي، چي د قبض او بسط دوه حالتونه، له انساني ارادې پرته، په خپله د خدای تعالی له خوا را منځ ته کیږي . لکه څنګه چي الله سبحانه و تعالی

د بقرې د سورې د دوه سوه پينځه څلويښتم آيت ( ۲ : ۲۴۵) په يوه برخه کې وايي : « . . . والله يقبض و يبسط . . . » ياني الله تعالی ( د رزق ) تنگي او پراخي کيي (کوي) .

د اتمي هجري پيړی عرفاني ليکوال - خواجه ضيأ الدين نخشبي ( په ۷۵۱ هـ ق کې، د هندوستان په بدايون کي مړ ) د خپل مشهور اثر « سلک السلوک » په شپږم سلک کې د قبض او بسط د عرفاني اصطلاحاتو په باب داسي ليکي : « د ځينو په اند، قبض په کنايي سره د رزق تنگی؛ او بسط د رزق پراخوالي ته اشاره ده . ځينو په مجازي او کنايي بڼه، قبض دونيا او بخيلی او بسط د دونيا او بخيلی، پرېښوولوته ويلي دي[5] .» عارفانو، د قبض و بسط د درجو په باره کې هم بېلابيلي خبري کړي دي . ځينو قبض غوره بللئ دئ؛ حال دا چي ځينو نورو بيا بسط ته د لوړوالي او ښه والي په سترگه کتلي دي .

زموږ عارف شاعر، علي محمد مخلص، هم د قبض او بسط په اړه، خورا ارزښتناکي نظريي لري . هغه، په يوه غزله کې، قبض او بسط ، د لوی ښتن د جمال او جلال صفتونه بولي :

قبض او بسط دي د جما ل، جلال موجونه
دغه زړه گه پري[6] تازه شي گــه جـفوف
د سړي زړه په يوه حـال کښـي نه اوسـي
په يوه زمان کښي څورب شي گه شفوف

مخلص هم قرآني نصوصو ته په ژوري پاملرني سره، د سالک په زړه کي د قبض او بسط پيدايښت، يوازي د حق تعالی کاربولي، چي هيڅوک په هغه کي د تصرف او لاس لرلو واک نه لري :

بې پروا فلک په خپله رضا گـرزي
په گردش يي دا سړی غني، گدا شي
قبض و بسط د حق په لاس کښي دي بـاور کړه !
دغه زړه گه بانــوا گه بېنــوا شي
په هر حال کښي رجوع حـق وته بـايـده ده
زورور قادر د هر عاجز ملـجـا شي

د نورو مالوماتو دپاره وگوری : جمال او جلال، ذات او صفتونه .

**لمنليکونه**

۱ عميد ۳ : ۱۸۷۵ .
۲ عميد ۱ : ۴۱۸ .
۳ نسفی، انسان الکامل ۱۱۶ .
۴ نسفی، انسان الکامل ۱۱۸ .
۵ نخشبی ۱۰ .
۶ اصل : پر .

پاته لري